مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۷۲** (از ۳۰ اسد الی ٦ سنبله ۱۳۹۵ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه........ ۲

**په افغانستان کې د امریکا متذبذبه تګلاره**

- په افغانستان کې د امریکا د جګړې پراوونه........ ۳
- د اوباما متزلزله تګلاره........ ۴
- د اوباما د متزلزلې تګلارې عوامل........ ۵
- د جګړې ډګر ته د امریکایانو ستنېدنه او پر سوله او جګړه يې اغېزې........ ٦

**تورید دواهای بی‌کیفیت در کشور؛ عوامل و راه‌حل‌ها**

- واردات غیرقانونی دواها........ ۹
- کنترول کیفیت........ ۱۰
- نیاز تعدیل در قانون تدارکات........ ۱۱
- چه باید کرد؟........ ۱۱

## مقدمه

تېره اوونۍ شاوخوا ۱۰۰ تنه امریکايي پوځیان په هلمند کې ځای پر ځای شول او ورسره هم‌مهاله یو امریکایی پوځي په دغه ولایت کې ووژل شو او یو بل ټپي شو. سره له دې چې بهرني پوځیان د ۲۰۱۵ کال له جنورۍ میاشتې راهیسې د قاطع ملاتړ ماموریت په چوکاټ کې د افغان ځواکونو د "روزنې" دنده ترسره کوي؛ خو اوس داسې ښکاري چې ورو ورو یو ځل بیا د جګړې ډګر ته هم ستنېږي.

د امریکا ولسمشر بارک اوباما په تېرو شپږو کلونو کې د افغانستان د جګړې تګلاره څو ځله بدله کړه او په یو ډول دا تګلاره د تذبذب ښکار وه. دا چې د افغان جګړې په تړاو د امریکا تګلاره ولې بدلېدونکې ده او په افغان جګړه کې امریکايي ځواکونو ته نوي واکونه به د جګړې پر ډګر او له وسله‌والو مخالفینو سره د روغې جوړې په بهیر څه اغېزې وښندي، د دې اوونۍ په تحلیل کې پرې شننه کوو.

د تحلیل په دویمه برخه کې هېواد ته د بې‌کیفیته او تقلبي دارو درملو د وارداتو په اړه لولئ. د افغانستان د عامې روغتیا وزارت چارواکو تېره اوونۍ په یوه مطبوعاتي ناسته کې وویل، چې دا مهال افغانستان ته تر نیمایي زیات دارو درمل په ناقانونه او قاچاقي ډول واردېږي. په تېره یوه نیمه لسیزه کې د روغتیا سکتور د یو شمېر پرمختګونو ترځنګ، هېواد ته د دغه راز درملو واردات، یوه ستره ننګونه بلل کېږي او دا ستونزه نه یوازې دا چې کنټرول شوې نه ده، بلکې ورځ تر بلې د پراخېدو په لور هم روانه ده.

په دې ګڼه کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل د څانګې، شننې او څېړنې لولئ.

# په افغانستان کې د امریکا متذبذبه تګلاره



د ملي وحدت حکومت له جوړېدو وروسته، د امریکا متحده ایالاتو له افغانستانه د خپلو سرتېرو د ایستلو پروګرام څو ځله بدل کړ او اوس یې یو ځل بیا د خپلې زړې تګلارې خلاف، په هلمند او کندز ولایتونو کې د افغان امنیتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ د تودې جګړې له کبله، خپل ځواکونه د جګړې ډګر ته استولي دي.

دا چې په ټولیز ډول په افغانستان کې د امریکا پوځي تګلاره څه ډول ده؟ ولې دا تګلاره له تذبذب سره مخ ده؟ او د جګړې ډګر ته د امریکايي ځواکونو بېرته ستنېدنه به پر افغان حکومت، د سولې بهیر او د جګړې پر ډګر څه اغېزې ولري؟ دلته پرې شننه کوو.

## په افغانستان کې د امریکا د جګړې پړاوونه

په ۲۰۰۰ کال کې په امریکا کې جمهوریت غوښتونکي واک ته ورسېدل او د دوی د پالیسۍ له مخې، په هر ځای کې چې د امریکا ګټې تر ګواښ لاندې وي او یا له کوم ځایه پر امریکا د برید احتمال وي، دوی باید هغه ګواښ مخکې له مخکې وځپي او له همدې کبله جورج ډبلیو بُش په ۲۰۰۱ او ۲۰۰۳ کلونو کې د افغانستان او عراق خونړۍ جګړې پیل کړې.

په ټولیز ډول د افغانستان د جګړې په تړاو د امریکا ستراتېژي له دریو پړاوونو تېره شوه: په لومړي ګام کې یې ستراتېژي دا وه چې د طالبانو نظام ړنګ او پر ځای یې یو نوی حکومت رامنځته کړي. کله چې طالبانو بیا جګړه پیل کړه، نو امریکا په دویم پړاو کې د دې چارې علاج د سرتېرو په زیاتولو سره وکړ. په درېیم پړاو کې، کله چې د امریکایانو تلفات زیات شول او په امریکا کې د افغانستان او عراق د جګړې پرضد غبرګونه راپورته شول، نو له کبله یې امریکا د ۲۰۱۱ کال په پای کې له افغانستانه د خپلو سرتېرو د ایستلو پروګرام پیل کړ.

امریکا د خپلو سرتېرو د ایستلو ترڅنګ په افغانستان کې د پوځي اډو ترلاسه کول غوښتل، چې دغه اډې بیا د ملي وحدت حکومت لخوا د امنیتي تړونونو له لاسلیک کولو سره ورکړل شوې.

## د اوباما متزلزله تګلاره

په افغانستان کې په لومړي ځل د امریکا ستراتیژي د ناامنیو له زیاتېدو او د جګړې له تودېدو سره د جورج ډبلیو بُش لخوا په ۲۰۰٦ کال کې بدله شوه او افغانستان ته یې نور سرتېري راواستول. هغه مهال بارک اوباما سناتور و او د عراق د جګړې پرځای یې د افغانستان پر جګړې ډېر ټینګار کاوه؛ ځکه د ده په اند له دغې سیمې څخه په امریکا بریدونه شوي وو او له همدغې سیمې څخه بیا هم پر امریکا د بریدونو احتمال شته دی.

کله چې په ۲۰۰۸ کال کې اوباما د امریکا ولسمشر شو، نو له یوې خوا یې په افغانستان کې د خپلو سرتېرو د زیاتولو اعلان وکړ او له بلې خوا یې له ۲۰۱۱ کال وروسته د خپلو سرتېرو د ایستلو پروګرام هم اعلان کړ.

په ۲۰۱۴ کال کې د ملي وحدت حکومت له جوړېدو سره سم، افغان حکومت له امریکا او ناټو سره امنیتي تړونونه لاسلیک کړل او له مخې یې پرېکړه وشوه، چې له ۲۰۱۴ کال وروسته به په افغانستان کې ۹۸۰۰ امریکایي او ۲۰۰۰ ناټو سرتېري پاتې کېږي او په ۲۰۱٦ کال کې به بیا دغه شمېره نیمایي ته راټیټېږي. دغه تګلاره بیا د ۲۰۱۵ کال په مارچ کې هغه مهال وځنډول شوه، چې کله افغان ولسمشر او اجرائیه رییس امریکا ته په سفر ولاړل. اوباما د خپلو سرتېرو د ایستلو پروسه لږ تم کړه او تر ۲۰۱۵ کال پورې یې د ۹۸۰۰ سرتېرو شمېرې پر ساتلو موافقه وکړه. وروسته کله چې د کندز ښار د طالبانو له خوا سقوط شو، نو اوباما خپله دغه تګلاره بیا بدله کړه او ویې ویل، چې د ۲۰۱٦ کال تر پایه به په افغانستان کې ۹۸۰۰ سرتېري ساتي او د ۲۰۱۷ کال په لومړۍ میاشت کې به بیا دغه شمېره ۵۵۰۰ ته راښکته کوي. مګر د ۲۰۱٦ کال په جولای میاشت کې اوباما یوځل بیا اعلان وکړ، چې د ۲۰۱٦ کال تر پایه به یوازې ۸۴۰۰ تنه سرتېري په افغانستان کې وساتي.

## د اوباما د متزلزلې تګلارې عوامل

په افغانستان کې د ملي وحدت حکومت له جوړېدو وروسته بارک اوباما له افغانستانه د خپلو سرتېرو د ایستلو پروګرام څو ځله وغځاوه. د اوباما د افغان تګلارې د بدلېدو ترشا لاندې عوامل رول لري:

- **د دیموکراتانو ملاتړ خپلول؛** له ۲۰۰۵ کال وروسته په عراق او افغانستان کې د امریکایي پوځیانو تلفات زیات شول او په امریکا کې د دغو دوو جګړو پرضد خلک په تدریج سره راپاڅېدل. په ۲۰۰۸ کال کې ډیموکراتانو د امریکا لپاره د دغو دوو جګړو د پای ته رسولو تر شعار لاندې ولسمشریزې ټاکنې هم وګټلې او د یوې څېړنې له مخې، ۷۳ سلنه دیموکراتانو له افغانستانه د خپلو سرتېرو د ژر تر ژره ایستلو دریځ درلود[1].
- **پر کرزي د فشار آلې په توګه؛** په ۲۰۰۹ کال کې د امریکا او په ځانګړې ډول د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا ځانګړي استازي ریچارډ هالبروک لهخوا د افغانستان په ولسمشریزو ټاکنو کې د لاسوهنو هڅې او په افغانستان کې د امریکا د سفیر آیکن‌بیری پټ ایمیل چې کرزی یې «غیر ستراتیژیک ملګری» بللی و او وروسته بیا د ویکي لیکس لخوا افشا شو، د کابل-واشنګټن پر اړیکو ژوره اغېزه وکړه. د اړیکو له خرابېدو او وروسته او بیا د امنیتي تړون د نه لاسلیک کېدو له کبله امریکا د خپلو دغو اعلانونو پر مټ د فشار آلې په ډول کار واخیست.
- **د عراق له تجربې او د تاریخ له ملامتیا وېره؛** که څه هم په امریکا کې اوباما د عراق د جګړې د ختمونکي او د افغانستان په جګړه کې د امریکایي سرتېرو د تلفاتو د کمونکي په توګه یادېږي؛ خو داسې نیوکې هم پرې شته دي، چې په ۲۰۱۱ کال کې یې یو داسې عراق تر شا پرېښود، چې کورنۍ جګړه پکې پیل او داعش ډلې یې ډېرې سیمې ونیولې. له همدې کبله اوس اوباما شایي اندېښنه ولري، چې یو داسې افغانستان تر شا پرې نږدي، چې یا وسلهوالې ډلې پکې واک ته ورسېږي او او یا هم کورنۍ جګړه پکې ونښلي.
- **په سیمه کې ګټې؛** افغانستان د روسیې او منځنۍ آسیا، ایران، پاکستان او چین ترمنځ پروت دی او جغرافیایي موقعیت یې د ډېر ارزښت وړ دی. له تېرو څو کلونو راهیسې په دغه سیمه کې یو شمېر

---

[1] د "پیو" دغه څېړنه په لاندې لینک کې ولولئ:
/http://www.pewresearch.org/daily-number/majority-support-quick-troop-withdrawal-from-afghanistan

بدلونونه هم رااوان دي، چې له يوې خوا پکې د روسيې او امريکا ترمنځ د سړې جګړې بحث بيا سر راپورته کړی او په عملي ډول د اوکراين، جورجيا او سوريې په قضيو کې له يو بل سره مخ دي او له بلې خوا چين هم په سيمه کې خپلې دوه مهمې پروژې د وربښمو نوي لاره او د چين-پاکستان اقتصادي حوزې په لاره اچولې دي. د دې ترڅنګ چين هغه هېواد دی، چې امريکا يې تر ټولو زياته پوروړې ده او اوسمهال د چين د جنوبي سمندرګي په قضيه کې هم د چين پرضد بلاک کې ولاړه ده.

- **د څو سيمو ترمنځ وېشلې پاملرنه او د لومړيتوب تذبذب؛** اوسمهال د امريکا پاملرنه د افغانستان، عراق او سوريې ترمنځ وېشل شوې ده؛ ځکه د عراق، سوريې او ايران له کبله منځنی ختيځ روسيې ته هم نه شي پرېښودلای (دغه راز په ترکيه کې له ناکامې کودتا وروسته انقره هم د روسيې په لور روانه ده) او له بلې خوا له افغانستانه هم په يوه داسې مهال توجه نه شي اړولای چې په دغه سيمه کې ژور بدلونونه رااوان دي.

## د جګړې ډګر ته د امريکايانو ستنېدنه او پر سوله او جګړه يې اغېزې

د شته معلوماتو له مخې، تېر کال امريکايي ځواکونه د کندز د بېرته نيولو پرمهال د جګړې ډګر ته ننوتل؛ خو وروسته يې د ۲۰۱٦ کال تر لومړۍ مياشتې پورې بيا د جګړې په ډګر کې ډېر رول نه درلود. البته په فبروري او اپريل مياشتو کې په غربي ورځپاڼو کې داسې راپورونه هم خپاره شول، چې امريکايي سرتېري له ۲۰۱۴ کال وروسته يو ځل بيا هلمند ته ستانه شوي دي.[2]

د ۲۰۱٦ کال د جولای په ۱۳مه د امريکا دفاع وزير اشټن کارټر افغانستان ته راغی او له افغان ولسمشر اشرف غني سره يې په ګډه خبري غونډه کې وويل، چې له افغان طالبانو سره د جګړې په موخه امريکايي ځواکونو ته نوي اختيارات ورکړل شوي. له دې وړاندې امريکايي ځواکونو يوازې هغه مهال د طالبانو پرضد عمليات کولای شول، چې غوښتنه به ترې وشوه؛ خو د دغو اختياراتو له مخې به له ګواښونو مخکې او يا هم د ګواښ د تشخيص په صورت کې عمليات او هوايي بريدونه کوي.[3]

---

[2] د فبروري د راپور لپاره وګورئ، نيويارک ټايمز ورځپاڼه: http://www.nytimes.com/2016/02/10/world/asia/us-troops-helmand-province-afghanistan.html?_r=0 او د اپريل د راپور لپاره وګورئ، واشنګټن پوسټ ورځپاڼه: https://www.washingtonpost.com/world/asia_pacific/us-troops-are-back-in-restive-afghan-province-a-year-after-withdrawal/2016/04/07/d3c6086a-fc19-11e5-813a-90ab563f0dde_story.html

[3] د نورو معلوماتو لپاره وګورئ: http://1tvnews.af/en/news/afghanistan/23512-new-powers-let-us-forces-take-fight-to-taliban--carter

تېره اوونۍ امریکا هلمند ته ۱۰۰ تنه سرتېري واستول، ترڅو له افغان ځواکونو سره د «روزنې» په برخه کې مرسته وکړي؛ خو یو سرتېری یې د سړک غاړې ماین چاودنه کې ووژل شو او یو یې هم ټپي شو.

که څه هم د جګړې ډګر ته د امریکایي او ناټو ځواکونو بېرته ستنیدنه به د افغان حکومت روحیه لوړه او د حکومت په اند د امنیتي ځواکونو مورال "لوړ" کړي؛ خو د جګړې او سولې په ډګر کې به ډېرې بدې اغېزې ولري. ځکه وسله‌والو طالبانو هلمند ته د امریکایي سرتېرو د بېرته ستنیدلو په اړه اعلامیه خپره کړې او دا به د دوی په لیکو کې جنګیالیو ته د جګړې د دوام پلمه او روحیه په لاس ورکړي.

# تورید دواهای بی‌کیفیت در کشور؛ عوامل و راه‌حل‌ها



ناامنی‌ها در کشور باعث شده است که افغانستان به یک کشور مصرفی ادویه تبدیل شود. مقامات وزارت صحت عامۀ افغانستان می‌گویند که در افغانستان سالانه حدود ٦٥٠ میلیون دالر امریکایی در بخش دوا مصرف می‌شود که ۱۸۰ میلیون دالر آن، صرف دوای سکتور دولتی (وزارت‌های داخله، دفاع و صحت) می‌شود.

از سوی دیگر، در حال حاضر افغانستان ۹۵ درصد داروی مورد نیازش را از بیرون از کشور وارد می‌کند، اما ورود ادویه‌های بی‌کیفیت تجاری، تقلبی، غیرمجاز و تاریخ گذشته به کشور، صحت مردم افغانستان را با خطر مواجه کرده است. نبود کیفیت در داروهای وارد شده سبب شده است تا بیماران برای درمان به خارج از کشور سفر کنند.

عوامل تورید داروهای بی‌کیفیت، تقلبی و غیرمجاز در کشور و راه‌حل‌های این معضل، مسائلی اند که در این بخش تحلیل هفته به آن پرداخته شده است.

## واردات غیرقانونی دواها

در سال‌های اخیر شاهد صدها میلیون دالر هزینه در بخش‌های مختلف صحی در کشور بودیم. صدها باب شفاخانه و کلینک در نقاط مختلف کشور ترمیم و اعمار گردیده است و تشکیلات اداری آن نیز توسعه یافته است، اما در بُعد تنظیم و کنترول ادویه، دست‌آورد محسوس و چشمگیری نداشته‌ایم؛ چنانچه دیده می‌شود با گذشت هر روز بیشتر از پیش، ادویه‌جات غیر مجاز و تقلبی از سوی افراد و شرکت‌ها به گونۀ غیر قانونی به بازار عرضه می‌شود که به ضعف مدیریت ارگان‌های مربوطه بر می‌گردد.

مقامات وزارت صحت عامه می‌گوید که هم‌اکنون حدود ۴۰ الی ۵۵ درصد داروهای وارداتی افغانستان به صورت قاچاق و غیرقانونی وارد کشور می‌شوند و این امر باعث تورید دواهای بی‌کیفیت و تقلبی در بازارهای افغانستان شده است. به همین دلیل، قاچاق دارو یک چالش بزرگی برای وزارت صحت عامه و تاجرانی که به صورت قانونی از کشورهای دیگر ادویه وارد می‌کنند، پنداشته می‌شود.

چندین مرجع بر واردات دارو در افغانستان نظارت دارند، ولی نبود یک میکانیزم درست برای هماهنگی و همکاری نزدیک میان نهادهای حکومتی، مانند وزارت امور داخله، وزارت مالیه و وزرات صحت عامه باعث گردیده تا سالانه صدها هزار تن ادویۀ بی‌کیفیت تقلبی و غیرمجاز از کشورهای همسایه به طور قاچاقی وارد کشور گردد.

عامل مهم دیگری که سایر عوامل در محور آن میچرخند، فساد اداری در ادارات ذیربط دولتی است. از لحظۀ که ادویۀ بی‌کیفیت، تقلبی و غیرمجاز وارد افغانستان می‌شود تا زمان تکمیل پروسۀ کنترول و طی مراحل گمرکی و عرضۀ آن به بازار، در تمام مراحل زمینه‌های فساد وجود دارد.

## کنترول کیفیت

در حال حاضر وابستگی دارویی افغانستان؛ ۳۵ درصد به پاکستان، ۲۵ درصد به هند، ۱۵ درصد به ایران و متباقی از چین، امارات متحدۀ عربی و سایر کشورها می‌باشد. در چند سال اخیر تنها در پاکستان حدود ۳۰۰ شرکت کوچک تولید ادویه‌های بی‌کیفیت برای افغانستان ساخته شده است که بامهر و نشانی تقلبی شرکت‌های معتبر آن کشور وارد افغانستان می‌گردد و این داروها به صورت ویژه برای مصرف در بازار افغانستان تولید شده است.

این ادویه از طریق مرزهای مشترک با کشورهای همسایه زیر نظر وزارت امور داخله و نظارت ادارۀ امنیت ملی و وزارت صحت عامه، وارد گمرکات گردیده و در نتیجۀ عدم هماهنگی و همکاری نزدیک میان ارگان‌های مربوطه، پروسس و به بازار عرضه می‌گردد.

بربنیاد بررسی که در سال ۱۳۹۴ توسط وزارت صحت عامۀ افغانستان انجام شده بود، از جمله ۱۰۰۰ شرکت ثبت شده در وزارت صحت عامه تنها ۲۰۰ شرکت داروهای با کیفیت لازم را وارد می‌کردند. در کنار این، براساس تحقیق کمیتۀ مشترک نظارت و ارزیابی مبارزه با فساد اداری، ادارۀ حمایت از سرمایه‌گذاری افغانستان (آیسا) یا وزارت تجارت و صنایع بدون در نظر گرفتن هیچ معیاری، به متقاضیان جواز فعالیت می‌دهد و در ادامه نیز از کارکردهای نهادی که جواز دریافت کرده، نظارت نمی‌شود. از سوی دیگر، با گذشت هفت سال فهرست داروهای مجاز نیز تجدید نشده، در حالیکه هر سال ۵۰ تا ٦۰ قلم دارو به این فهرست افزوده می‌شود.

نبود لابراتوارهای مجهز و استندرد در مرزها و در عین زمان کمبود کادرهای مسلکی و متخصص به خصوص در ولایات که طرز استفاده از دستگاه‌های جدید لابراتواری را به خوبی بدانند، نیز یکی دیگر از عوامل تورید ادویه‌های بی‌کیفیت به افغانستان پنداشته می‌شود. گفته می‌شود، در سال‌های اخیر ماشین آلات طبی پیشرفته از سوی وزارت صحت عامه خریداری گردیده است، اما پایین بودن سطح تخصص و نبود کادرهای مسلکی در بخش تکنالوژی طبی در کشور، تعدادی از این وسایل مدرن در مرکز و ولایات به دلیل عدم استفاده درست، استهلاک گردیده است.

مشکل دیگری که در این عرصه وجود دارد، پروسۀ حمل و نقل ادویه‌ها توسط کامیون‌هایی است که از کشورهای پاکستان و ایران مدت ۱۵ الی ۳۰ روز را در بر می‌گیرد، در حالیکه به گونۀ معیاری با سیستم

سردخانه مجهز نبوده و گاه‌گاهی چندین روز متواتر به خصوص در شهرهای کراچی، لاهور، پشاور، کندهار، و ننگرهار درجهٔ حرارت داخل کامیون بالاتر از ۴۰ درجه سانتی گرید می‌باشد.

## نیاز تعدیل در قانون تدارکات

قانون تدارکات افغانستان نه تنها در بخش طبی بلکه در بخش‌های تجارتی و مسلکی دیگری، چون د افغانستان برشنا شرکت، د آریانا افغان هوایی شرکت و غیره برای تدارک اجناس و وسایل مورد نیاز کاربرد ندارد و نیاز است تا برای هر یک از این نهادها طرزالعمل‌های جداگانه مطابق به روحیهٔ تجارتی آنها تهیه و تصویب گردد. قانون تدارکات مصوب ۱۳۸۷ چگونگی واردات دارو را به خوبی توضیح نمی‌دهد و قانون داروی سال ۱۳۸٦ واردات دارو را بیش از حد ساده کرد.

سیستم نرخ‌گیری برای تدارک اجناس و مقید بودن نرخ نازل در قانون تدارکات افغانستان، یکی از مشکلات درخور توجه برای تدارک ادویه پنداشته می‌شود که شرکت‌های وارد کننده را مجبور می‌سازد تا ادویه را بر مبنای نرخ نازل در مارکیت کشورهای تولید کننده جستجو نمایند و رقابت میان شرکت‌های وارد کننده بر مبنای همین نرخ نازل شکل بگیرد.

این امر یکی از چالش‌های عمده و در عین زمان دست‌آویز مهمی برای تاجران دوا و زمینه‌ای برای نهادینه شدن فساد در ادارات ذیربط دولتی است.

## چه باید کرد؟

برای جلوگیری از واردات ادویه‌های بی‌کیفیت، نیاز است تا اقدامات ذیل روی دست گرفته شود:

- وضع قوانین سخت‌گیرانه برای شرکت‌ها و افرادی که در بخش قاچاق و فروش ادویه‌های بی‌کیفیت فعالیت می‌نمایند؛
- ساخت و تطبیق طرزالعمل تولید، تورید و نظارت از تنظیم ادویه؛

- بلند بردن سطح ظرفیت مسلکی و تخصصی کادرها در بخش استفاده از تکنالوژی طبی به خصوص در ولایات کشور؛
- ایجاد میکانیزم مشخص برای تقویهٔ هماهنگی میان ارگان‌های ذیدخل در تورید و پروسس ادویه؛
- حمایت از سرمایه‌گذاری‌های خصوصی در بخش تولید ادویه‌جات در داخل کشور؛
- تایید کردن دواهای تولیدی افغانستان از سوی یک شرکت معتبر دواسازی جهانی.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.